له تاسو مخکې په خلکو کې یو پاچا و او یو جادوګر یې درلود

له صهیب رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "له تاسو مخکې په خلکو کې یو پاچا و او یو جادوګر یې درلود، کله چې جادوګر بوډا شو، نو پاچا ته یې وویل، زه بوډا شوی یم، یو هلک راولېږه چې جادو ورزده کړم، نو پاچا هغه ته یو هلک ورولېږه چې زده کړه ترې وکړي، د هلک په لاره کې یو راهب و، کله به چې په لار تېریده هغه سره به یې ناسته کوله او خبرې به یې ترې اوریدې تر دې چې ترې اغېزمن شو، نو همداسې به یې کول چې جادوګر ته د تلو پر مهال به له راهب سره کښېناسته، کله به چې جادوګر ته ورغی هغه به ووایه، نو راهب ته یې له جادوګر څخه شکایت وکړ" هغه ورته وویل: کله چې له جادوګر څخه وېرېدې ورته وایه چې کورنۍ ابسار کړی وم، او که له کور څخه دې وېره درلوده ورته وایه چې جادوګر ابسار کړی وم'" په همدې حال کې ګوري چې یوه وړځ یو لوی ځناور خلک ابسار کړي او ترې تېرېدلای نه شي، نو ویې ویل: نن به پوه شم چې جادوګر په حقه دی که راهب؟ نو یوه تېږه یې راواخېسته، او ویې ویل"ای الله، که د راهب لاره تاسو ته د جادوګر په پرتله خوښه وي نو دا ځناور ووژنه، ترڅو خلک تېر شي، بیا یې وویشت تر دې چې ووژل شو او خلک تېر شول، بیا راهب ته ورغی او خبر یې کړ، راهب ورته وویل: ای بچیه، ته نن له ما څخه غوره یې. ستا معامله هغه ځای ته رسېدلې ده چې زه یې ګورم او دا چې ته به ازمایل کېږې، نو که وازمایل شوې زما په اړه هېڅا ته مه وایه، پدې وخت کې به هلک ړانده او برګې ناروغان رغول او د هر ډول ناروغیو درملنه به یې کوله، بیا د پاچا یو درباري و چې ړوند شوی و هغه خبر شو او ډېرې ډالۍ ورته راوړې، ویې ویل: که ته ما روغ کړې نو څه چې دلته دي ټول ستا دي. هغه وویل: «زه هېڅا ته شفا نه ورکوم؛ یوازې الله شفا ورکوونکی دی، که ته په الله ایمان راوړې، زه به له الله څخه سوال وکړم نو هغه به تا روغ کړي» هغه په الله ایمان راوړ، او الله روغ کړ، بیا هغه پاچا ته لاړ او له هغه سره د پخوا په څېر کښېناست، پا چا ترې وپوښتل: "چا دې دید ښېرته درکړ؟" هغه ځواب ورکړ: زما رب، هغه وویل: آیا ته له ما پرته بل رب لرې؟ هغه وویل: زما رب او ستا رب الله دی، هغه راونیوه شکنجه یې کړ تر دې چې د هلک په اړه یې خبر کړ، هلک راوستل شو، پاچا ورته وویل: ای بچیه، ستا جادو دومره حد ته رسیدلی چې ته ړوند او برګی ناروغ رغولی شې، او داسې او داسې کارونه کوې، هغه وویل: زه هیڅوک نه شم رغولی، دا الله دی چې شفا ورکوي، نو هغه یې دومره شکنجه کړ تر دې چې راهب یې وروښود، راهب راوستل شو او ورته وویل شو چې: "له ایمان څخه واوړه" هغه انکار وکړ، پاچا آره راوغوښته او د هغه په سر یې کښېنوده او هغه یې دوه ټوټې کړ، تر دې چې دواړه ټوټې په ځمکه ولویدې، بیا د پاچا ملګری راوستل شو او ورته وویل شول: "ایمان دې پرېږده" خو هغه هم انکار وکړ. نو د هغه په سر یې هم اره کښېنوده او هغه یې دوه ټوټې کړ تر دې چې دواړه ټوټې پر ځمکه پرېوتې، بیا هلک راوستل شو او ورته وویل شول: "خپل دین دې پرېږده" خو هغه انکار وکړ، نو هغه یې د خپلو ملګرو یوې ډلې ته وسپاره او ورته یې ویې ویل: "هغه فلاني غره ته یې وخېژوئ، نو کله چې ته د غره څوکې ته ورسېدئ، که له خپل دین څخه یې لاس واخېست ښه ده؛ که نه نو ښکته یې وغورځوئ" دوی له ځان سره بوته او غره ته وختل، هلک وویل: "ای الله! څنګه چې غواړې له دوی مې وساته. نو غر ولړځېد او دوی ترې راولوېدل، هلک ېرته پاچا ته راغی، پاچا وویل: ستا ملګرو څه وکړل؟ هغه وویل: الله تعالی زما لپاره د دوی په وړاندې کافي شو، نو هغه یې د خپلو ملګرو یوې بلې ډلې ته وسپاره او ویې ویل: دا واخلئ په کښتۍ کې یې کښتۍ یې‌سپور کړئ او د سمندر منځ ته یې بوځئ، که له خپل دین څخه یې لاس واخېست ښه ده، که نه نو له وغورځوئ، دوی همداسې وکړل، هلک وویل: ای الله! زما لپاره د دوی په وړاندې کافي شه لکه څنګه چې ته غواړې. نو کښتۍ پر دوی واوخته او دوی ډوب شول، هلک ېرته پاچا ته راغی، پاچا ورته وویل: "ملګرو دې څه وکړل؟" هغه وویل: "الله تعالی زما لپاره د دوی په وړاندې کافي شو" بیا یې پاچا ته وویل: "ته ما تر هغه وخته نه شې وژلی چې زما خبره ونه منې" پاچا وویل: "کومه خبره؟" هغه وویل: "خلک به په یوه ځای کې راټول کړې، بیا به ما د خرما په یو ډډ ورپورته کړې او زما له ځولۍ به غشی راواخلې او په کمان کې به یې کېږدې او ما به پرې وولې او د وېشتلو پر مهال به ووایې : بسم الله رب الغلام، یعنې د الله په نوم چې د دې هلک رب دی، نو بیا به زه ووژل شم" نو همغه و چې خلک یې په یو ځای کې راټول کړل او هغه یې د ونې د تنې پورې په

دار وځړاوه، بيا يې د هغه له چانټې غشی راوويشت، په کمان کې يې کښښود او ويې ويل: "د الله په نوم، چې د دې هلک رب دی" بيا يې پرې وويشت، نو غشی يې د غور او سترګې ترمنځ ولګېده، نو هلک پرې لاس کښښود او مړ شو، همغه و چې خلکو وويل: مور د هلک په رب ايمان راوړی، مور د هلک په رب ايمان راوړی، نو يو څوک پاچا ته راغی او ورته يې وويل: هغه څه وشول چې تا ترې وېره درلوده، ټولو خلکو ايمان راوړ، نو امر يې وکړ او خندقونه ووېستل شول او اور پکې بل کړی شو، او ويې ويل: څوک چې له خپل دين څخه نه اوړېده نو پکې يې وسوځوئ، او يا به ورته ويل کېدل چې ځان وروغورځوه، نو همداسې يې وکړل، تر دې چې يوه ښځه راوستل شوه او د هغې سره يې ماشوم هم و، نو زړه نازړه شوه چې اور ته ځان وغورځوي کنه، نو ماشوم ورته وويل: «ای مورجانې صبر وکړه، ته په حقه يې».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

نبي ﷺ خبر ورکړی چې په پخوانيو امتونو کې يو پاچا و، او هغه يو جادوګر درلود، کله چې جادوګر زوړ شو، پاچا ته يې وويل: زه زوړ شوی يم، نو يو ځوان راولېږه تر څو هغه ته جادو ورزده کړم. پاچا يو ځوان جادوګر ته واستاوه چې زده کړه ترې وکړي، د هلک په لاره کې يو راهب و چې له هغه سره به کښېناسته او دهغه خبرې به يې اوريدې، نو خوښې يې شوې، نو هر ځل به چې د جادوګر پر لور تللو له راهب سره به کښېناسته، خو کله به چې ناوخته ورسېده، جادوګر به واهه، نو هغه دا خبره راهب ته وکړه. راهب ورته وويل: که له جادوګره وېرېدې، وايه کورنۍ مې ابسار کړی وم، او که له کورنۍ وېرېدې، وايه جادوګر ابسار کړی وم، نو دی په همدې حال کې و چې يوه وږځ يې يو لوی حيوان وليد چې خلک يې د لارې تېرېدو ته نه پرېښودل، نو ويې ويل: نن به معلومه کړم چې جادوګر غوره دی که راهب؟ نو يوه ډېره يې راواخيسته او ويې ويل: اې الله! که د راهب کار تا ته د جادوګر له کاره غوره وي، نو دا حيوان ووژنه تر څو خلک تېر شي، نو په ډېره يې وويشت او حيوان يې ووژه او خلک تېر شول، بيا راهب ته ورغی او کښسه يې ورته وکړه، راهب ورته وويل: اې زويه! ته نن ورځ له ما څخه غوره يې، او داسې مقام ته رسېدلی يې چې زه يې وينم، نو ته ازمايل کيږې، خو چې وازمويل شوې، ما چاته ونه ښايې، هلک به ړانده او د برګې ناروغان رغول او د الله په اجازه به يې د خلکو د ېلابېلو ناروغيو درملنه کوله، د پاچا يو نږدې کس چې ړوند شوی و خبر شو، نو له ډېرو ډالیو سره هلک ته ورغی او ورته ويې ويل: دا ټولې ډالۍ ستا دي، که تا زه روغ کړم. هلک وويل: زه څوک نه رغوم، بلکې الله شفا ورکوي، نو که ته په الله ايمان راوړې، زه به دعا وکړم او الله به دې روغ کړي، نو په الله يې ايمان راوړ او الله روغ کړ، بيا پاچا ته ولاړ او لکه مخکې به چې کښناسته، ورسره کښناست، پاچا ترې وپوښتل: چا دې سترګې بېرته درته راوګرځولې؟ هغه وويل: زما رب، پاچا وويل: ايا ستا لپاره له ما څخه پرته بل رب هم شته؟ هغه وويل: زما رب او ستا رب الله دی. پاچا هغه ونيوه او تر هغه وخته يې ځوراوه تر څو هلک يې ور وښوده، هلک راوستل شو، پاچا ورته وويل: زويه! ته په جادوګرۍ کې داسې مرحلې ته رسېدلی يې چې ړانده او د برګې مرض والا ناروغان رغوې، او ېلابېل کارونه کوې. هغه وويل: زه څوک نه رغوم، بلکې الله شفا ورکوي، نو پاچا راونيوه او تر هغه وخته يې ځوراوه چې راهب يې ور وښود. نو راهب راوستل شو او ورته وويل شول: له خپل دين څخه تېر شه، خو هغه ونه منله، نو آره يې راوغوښته او د هغه د سر په منځ يې کښوده او دوه تکړي يې کړ. بيا د پاچا نږدې کس راوستل شو او ورته وويل شول: له خپل دين څخه تېر شه، خو هغه هم ونه منله، نو د سر په منځ يې ورته آره کښوده او دوه تکړي يې کړ. بيا هلک راوستل شو او ورته ويل شول: له خپل دين څخه تېر شه، خو هغه ونه منله، نو هغه يې خپلو ځينو کسانو ته وسپاره چې د دريو او لسو تر منځه وو. ويې ويل: فلاني او فلاني غره ته يې يوسئ، غره ته يې پورته کړئ، کله چې پورته څوکي ته ورسېدئ، نو که له خپل دين څخه وګرځيد (پرې يې ږدئ) کنه راويې غورځوئ، نو هلته يې بوته او غره ته يې وخېژاوه. هلک وويل: اې الله! څنګه چې غواړې له دوی څخه مې وساته، نو غر په شدّت ولړځېد، هغوی ترې ولوېدل، او هلک په سلامتۍ سره د پاچا مخې ته راغی. پاچا ترې وپوښتل:ستا په ملګرو څه وشول؟ هلک وويل: زه الله له هغوی څخه وساتلم. نو خپلو ځينو کسانو ته يې وسپاره، او ويې ويل: دی يوسئ او په کوچنۍ کښتۍ کې سپور کړئ، د درياب منځ ته يې ورسوئ، که له خپل دين څخه تېر شو، خوشې يې کړئ، که نه، په بحر کې يې وغورځوئ. هغوی هلک کښتۍ کې سپور کړ، هلک وويل: «اې الله! زما ساتنه وکړه د هغوی پر وړاندې لکه څنګه چې غواړې، نو کښتۍ چپه شوه، هغوی ډوب شول، او هلک په سلامتۍ د پاچا مخې ته راغی. پاچا ترې وپوښتل: ستا په ملګرو څه و شول؟ هلک وويل: زه الله د هغوی څخه وساتلم، بيا هلک پاچا ته وويل: ته ما نه شې وژلی، تر څو هغه کارونه ترسره کړې چې زه يې درته وايم. پاچا وويل: هغه څه دي؟ هلک وويل: خلک په يوه ښکاره (هموار) سيمه کې راټول کړه، او ما د ونې پر ډډ په دار وځړوه، بيا زما له ځولۍ يو غشی راواخله، په کمان کې يې کېږده، او ووايه: د الله په نوم، هغه ذات چې د دې هلک رب دی، بيا پرې ما وواله، نو که ته داسې وکړې، زه به ووژل شم، نو خلک يې راټول کړل، هلک يې د ونې پر تنې وځړاوه، غشی يې راواخېست، په کمان کې يې کښښود، بيا يې وويل: د الله په نوم

چې د دې هلک رب دی، بیا یې پرې هلک ووېشت، غشی د هلک د سترګو او غوږ تر منځه ځای کې ولګېد، نو هلک په خپل زخم لاس کېښود او مړ شو. خلکو وویل: مور د هلک په رب ایمان راوړی، مور د هلک په رب ایمان راوړی، مور د هلک په رب ایمان راوړی. نو پاچا ته خلک راغلل او ورته وویل شو، له څه نه چې ویرېدې همسې وشول؟ په الله قسم، پر تا هغه څه وشول چې ته ترې ویرېدې، هغه دا چې خلک ټول د هلک پیروان شول او د هغه په رب یې ایمان راوړ. نو پاچا امر وکړ چې د لارو په دروازو کې دې لوی اوردې خندقونه وکېندل شي، نو اور پکې بل کړی شو، بیا یې وویل: څوک چې له خپل دین څخه نه ګرځي، هغه پکې وغورځوئ، نو هغوی هغه څه وکړل چې پاچا یې امر کړی و، تر دې چې یوه ښځه راغله او له ځان سره یې یو ماشوم درلود. هغه ودرېده، نو ځای پر ځای ودرېده او اور ته له ننوتلو یې کرکه وکړه، نو ماشوم یې مور ورته وویل: ای موریې! صبر وکړه، بېشکه ته پر حقه یې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3303